# قربان دې شم

د خدای وعده شوې قرباني

# قربان دې شم

## د خدای وعده شوې قرباني

روښانه کتابونه

# پېژندګلو

د تاریخ له مخې د مختلفو رواجونو خلکو حیوانات د مذهبي روایاتو او دندې پوره کولو په خاطر قرباني کړي دي. په ټوله نړۍ کې د افریقا څخه تر منځني ختیځ پورې او ځینې نور قومونه کال په کال خدای ته په عام ډول قرباني کوي. زه یقین لرم چې تاسو به په دې پوهیږئ چه د قربانۍ اختر د حضرت ابراهیم څوک چه په  زرګونو کاله پخوا یو لوی پیغمبر تېر شوی دی او هغه خپل زوی قرباني کړی دی نن سبا دا قرباني د هغې قربانۍ د یادولو په خاطر کېږی.

مونږ ته قرباني څه معنی لري؟ مونږ هغه چا ته "قربان دې شم او جار دې شم" وایو څوک چه راته ډېر ګران او نږدې وي. آیا د قربانۍ په وسیلې مونږ خدای ته نږدې کیدای شو؟

# رباعي

هر چا چې يم رټلى نو بستر وركوم
هر څوک چې راته بد وايي نو زر وركوم
يم هغه ونه څوک مې چې په ګټو ولي!
خپل سورى ورله زه او هم ثمر وركوم(حمزه شنوارى)

# ټپې:

زما په حاضر مجلس سلام دى
دا مې كلام دى چې غلام د ټولو يمه
نارې وهم نارې مې نۀ اورې
بيا به جهان راپسې ګورې نۀ به يمه
د غم رباب د غم شهباز دى
د غم يې ساز د غم ټپې په کې كومه

# په ازل کې

هر كله چې په ازل کې قادر مطلق خداى آدم عليه السلام او بې بې حوا پيدا كړل. دوى د خداى تعالٰى سره ښه رابطه درلوده.

دوی د هغه سره مینه کوله. او خدمت یې کـاوه. او پـه سـندرو او خوشحالۍ سره یې د هغهٔ ثنا صفت ویلـو. د ګنـاه لپـاره د قربانۍ هیڅ حاجت نه ؤ ځکه چې په هغه وخت کـې د دوی قرباني صرف او صرف د خدای ثنا، شکر ګذاري، تابعداري او مینه وه د دوی زړونو به د خوشحالۍ نه داسې ټوپونه وهـل او ویل به یې چې:

ای خدایه قربان دې شم. ای آسماني یاره
قربان دې شم.
ستا د پاکې مینې نه قربان دې شم،
قربان دې شم.

# سندره:قربان دې شم

قربان دې شم!
وفاداره یاره زما
د مینې نه قربان دې شم
د پاکې وینې قربانۍ نه، قربان دې شم د
سپیڅلې مینې اِلهي نه هی
قربان دې شم
قدرت و بادشاهي، لویي ستا ده،
قربان دې شم

رحمت و خوشحالي له ستا ده،
هی قربان دې شم.
قربان دې شم!
وفاداره یاره زما
د مینې نه قربان دې شم.

## ګناه او بیلتون

د خدای او د انسان په منځ کې بې شانه مینه وه.خو، دا لیکل شوي دي چې:
آدم علیه السلام او بي بي حوا د لوی خدای په خلاف ګناه وکړه. او د دوی تر منځ د ملګرتوب رابطه ختمه شوه. خو په هغه وخت خدای دوی ته حکم ورکړ چې له مانه جدا شئ!

## لکه داټپه :

جدایی راغله لارې دوه شوې
مرګ مې قبول دی جدایي نه قبلومه
خو جدایي راغله ځکه چې دا زمونږ د
ګناهونو سزا وه. چې د خدای نه په
جسماني او روحاني مرګ سره جدا شو.

او خدای عاشق د انسان معشوقې نه جدا شو چې آدم علیه السلام او بي بي حوا ؤو. دوی او د دوی آینده نسل یې د باغ نه وشړل. او د خدای او د انسان په منځ کې د ملګرتوب تار اوشلیدو. او یووالی ختم شو.

## سندره:ټپې

جدایې راغله لارې دوه شوې
مرګ مې قبول دی جدایي نه قبلومه
د بیلتانه په مدرسه کې
د غم کتاب شروع کوم ژړا راځینه
بیلتون په جګه غونډۍ ناست دی
قلم په لاس کې دوه یاران جدا کوینه
یوځلې بېرته مخ راستون کړه
د سپینلي په شان لوګی درپسې یمه
بیلتانه غرونه په ژړا کړل
ځکه د ځمکی په مخ ډکې ویالې ځینه
که په ژړا جانان موندی شو
ماله به اوښکې په مخ جوړ کړي سیلابونه

# دا د انسان اوله ګناه وه، او نتيجه يې څه وه؟

د دې نه وروسته، د انسانانو په مينځ کې دښمني، سپيرتوب، تباهي، درد، غربت خفګان، ګناه، نفرت، جنګ او قتلونو ځای ونيوه او دا ټولې بدبختۍ په انسان کې پيدا شوې.
دا ځکه چې انسان شيطان ته غوږ ونيوه او د خدای نافرماني يې وکړه.

# د خدای وعده شوې قرباني

خو زمونږ مهربان او په انسان عاشق خدای دا نهٔ غوښتل چې د انسان نه جدا شي. او جدايي يې قبوله نه کړه.
خو په دې کې خدای زمونږ سره يوه لويه وعده وکړه. چې زه به خلاصوونکی او پخلا کوونکی درولېږم. خدای وويل چې:
ستا په اولاد کې به يو د مار يعنې شيطان سر دړی وړی کړي. خو مار به يې په پونده چيچي. هغه به ستاسو په ځای ستاسو د ګناهونو سزا وزغمي، او ستاسو لپاره به مرګ قبول کړي. دا خلاصوونکی به هم په زړورتيا سره شيطان ته شکست ورکړي او هر هغه څوک چې د راتلونکي خلاصوونکي په قربانۍ

باندې ایمان راوړی او باور پرې وکړي، هغه به د خدای عاشق دیدن وکړي. او د هغه په وجه به د جدایئ وخت ختم شي.

# د ابراهیم علیه السلام سره وعده

یو ایماندار سړی چا چې د دې وعده شوې قربانۍ امید درلوده حضرت ابراهیم علیه السلام ؤ.

نو خدای ابراهیم علیه السلام ته وویل چې:

زه به ستا نه یو لوی قوم جوړ کړم او برکت به در کړم. زه به ستا نوم لوی کړم چې ته به د برکت باعث وګرځې او ستا مبارک کوونکی به مبارک کړم. او په تا لعنت کوونکی به لعنتي کړم. او د دنیا ټول قومونه به ستا په وسیله برکت بیا مومي.
(تورات پیدایښت ۱۲:۲-۳)

خدای وعده وکړله چې ابراهیم ته به یو زوی ورکړي. چې د هغۀ د نسل نه به د دنیا قومونه برکت ومومي. هم د ایمان په سبب ساره په زوړوالي کې د ماشوم زیږولو طاقت بیا موند ځکه چې ساره لوظ کوونکی ربښتینی وګڼلو. نو بیا د یو سړي نه چې د مړي په شان ؤ، د آسمان د ستورو هومره زیات او د سمندر د غاړې د شګو هومره بې شماره اولاد پیدا شو.
(عبرانیان ۱۱:۱۱-۱۲)

# د ابراهیم د خپل زوی قرباني کول

دا په تورات شریف کې لیکل شوي دي چې:
" پس له دې خبرو داسې وشوه چې خدای د ابراهیم آزمیښت وکړ او ورته یې وویل چې ابراهیمه! هغهٔ وویل چې حاظر یم نو بیا یې ورته وویل چې تهٔ خپل زوی اسحاق چې ستا یکي یو زوی دی، او چې ته ورسره مینه کوې. د خپل ځان سره بوزه او د موریاه ملک ته لاړ شه او هلته په غرونو کې یو غر چې زه به یې درته وښیم. د سوزیدلې قربانۍ په طور ورکړه او ابراهیم سحر وختي پورته شو. او خپل خر یې کته کړ.او د دوه ځوانانو او د خپل زوی اسحاق سره روان شو. او د سوزیدلو د قربانۍ لپاره یې لرگي واچول. او پاڅېده او هغه ځای ته چې خدای ورته ښودلی ؤ لاړ.او ابراهیم په دریمه ورځ خپلې سترگې پورته کړې او هغه ځای یې له لرې نه ولیده او ابراهیم خپلو ځوانانو ملگرو ته وویل چې دلته د خره سره پاتې شئ او زه او دا هلک دواړه لږ هلته ځو او د سجدې کولو نه پس به بېرته تاسو له راځم. او ابراهیم د سوزیدلو د قربانۍ لرگی واخیستل او په خپل زوی اسحاق یې کېښودل. اور او چاړه یې خپل ځان سره واخیستل او دواړه یو ځای لاړل.او بیا اسحاق خپل پلار ابراهیم ته وویل چې ای پلاره! هغهٔ جواب ورکړ چې آو زویه! هغه وویل چې گوره! اور او لرگي

خو شته مگر ته به د سوزیدلو قربانۍ لپاره ګډوری چېرته پیدا کړې؟ او هغوی دواړه مخکې تلل او هلته ورسیدل چې خدای ورته ښولی ؤ. (پیدایښت۲۲ :۱-۸ )

هلته ابراهیم یوه قربانګاه جوړه کړله او لرګي یې په ترتیب خواره کړل او خپل زوی اسحاق یې وتاړه او د لرګیو د پاسه یې په قربانګاه کې کېښود.نو ابراهیم خپل لاسونه اوږده کړل او چاړه یې واخیستله چې خپل زوی حلال کړي.نو بیا د خدای فرښتې هغهٔ ته له آسمان نه نعرې کړې چې ای ابراهیمه! ای ابراهیمه! هغهٔ وویل چې زه حاضر یم.نو بیا یې ورته وویل چې ته خپل لاس هلک ته مه وروره او ورسره هیڅ مه کوه. ځکه چې زه اوس پوهېږم چې ته له خدای نه ویرېږې او خپل یکي یو زوی دې هم له خدای نه منع نه کړ او ابراهیم خپلې سترګې پورته کړلې او ویې لیدل چې شا ته یې ګډ ولاړ دی چې ښکر یې په جاړو کې نښتی دی.ابراهیم لاړ او ګډ یې ونیوه او د خپل زوی په ځای یې د سوزیدلو د قربانۍ په طور ورکړ.او ابراهیم د هغه ځای نوم رازقه یاره کېښود.“ چې تر نن ورځې پورې دا متل دی چې خدای به خپله په غر بندوبست کوي.

(تورات پیدایښت ۲۲ : ۹- ۱۴ )

زمونږ لپاره د ابراهیم علیه السلام قیصه یو مثال دی. خدای یو ګډوری راولېږه کوم چې به د هغه هلک په ځای قربان شي، څوک چې د مرګ لپاره محکوم شوی ؤ. دا د راتلونکې قربانۍ

تصوير ؤ. کومه چې به په هم هغه غر راتلونکی وي چې خدای به پرې پخپله لويه قرباني وکړي.خو په دغه وخت به ګـډوری نه وی. خو سړی چا ته چـې بـه د خـدای تعـالٰی وری ويلـی شي. خو دا قرباني به آخري او په پوره ډول سـره سـپيڅلې او قابل قبول وي. هغـه بـه د هـر يـو محکـوم شـوي ګنـاه ګـار د ګناهونو په ځای قربان کړی شي.

# د خدای په کور کې قرباني

ډير کلونه تېر شول خو د خلکو د ګنـاهونو د يـادولو د پـاره او هم د وعده شوې قربـانۍ لپـاره کـوم چـې راتلـونکې وه خـدای موسٰی ته د قربانۍ حکم ورکړ چې هغه په اول وخـت کـې پـه يوه خېمه کې وه. او بيا وروسته دا قربانۍ يې د خدای په کور کې کولې چې دا د خدای کـور سـليمان جـوړ کـړی ؤ .د هغـه ځای خلکو به خدای ته هميشه د غوايانو، وزو او وريو قرباني کوله. په شريعت کې خـدای حکـم کـړی دی چـې " بغيـر لـه وينې تويولو نه د ګناهونو معافي نه کيـږی." نـو بيـا خلقـو تـه حکم ور کړی شو چې يو بې داغه، بې عيبـه او پاکـه قربـاني وکړي چې د هغې په وسيله به دوی معافي ومومي.انسـانانو دا اميد درلود چې د هغو بدو عملونو لپاره کوم چې دوی د خدای

په خلاف کړي دي د قرباني د وينـې تويولـو پـه وسـيله بـه د خدای پاک سره پخلا شي.

# سرود :همراز

ای که تو از بهر دعا آمده ای در چنین جای
مقدس این را بقین دان
ناجی ما مینگرد میشنود عرض ما را گر بود از
روی ایمان.
چونکه خود فرموده ما را ای محبان،
با شما بستم ز رحمت عهد و پیمان.
گر در عهد و وفا بمانید حکم مرا بدانید.
نام مرا بخوانید با قلب و وجدان
میکنم هر مشکلی راحل و آسان،
میرسانم هر دعا را نزد یزدان
طرز دعا را نور خدا یاد بما داد تا
افتد قبول حی سجان
هر که خدا را با دل و جان قلب و زبان
خواند زود جواب از فضل رحمان
پس بیا تا متهد گردیم و همراز، حاجت
خود را بریم نزد سبب ساز

گوئیم ای پدر روحانی حاجت ما را دانی
باطن ما را خوانی ای شاه شاهان
قادرا ما را رهان از نفس و شیطان، کن
عطا ما را از احسان روح ایمان

خو دا قربانی هم لکه مثال ۆ. دا لیکلی شوي دي چې:
ځکه چې شریعت چې په کې د راتلونکو ښو شیانو عکس دی او د هغو شیانو اصلي شکل نه دی، د هغه یو قسم قربانیو په وجه کومې چې کال په کال بې ناغی پیش کولی شي، خدای ته نژدې راتلونکي خلک هیڅ کله هم کامل کولی نه شي. نو د هغوی پیش کول به ختم شوي نه ۆو څه؟ که عبادت کوونکي یو وار پاک شوي ۆو،نو بیا به د هغوی زړۀ هغوی نه گناهگار کولی.بلکه هغه قرباني کال په کال گناهونه را یادوي. ځکه چې دا ممکنه نه ده چې د غوایو او وزو وینه گناهونه لرې کړي. (عبرانیان ۱۰ :۱-۴)

# د نبیانو او رسولانو د وعده شوې قربانۍ پیش گویی

نو په دې سبب د انسان زړۀ څه شی د گناه د داغ او توروالي نه پاکولی شي؟ په زبور شریف کې داود (ع) داسې فرمایلي دي چې:

مـا ووينځــئ، او د واورې نــه مــې زيــات ســپين كــړې!
(زبور ۵۱:۷ )
خو لكه د پښتو دا متل چې:
تور په صابون نه سپنيږي
او هم لكه دا بل متل چې:
د سپي لكۍ كه سل كاله په نچه كې وساتې سمه به نه شي.
ښه، زما ګرانو ورونو او خوينـدو! دا متلونـه روحـاني معنـې لري.ځكه چې د انسـانانو فطرتونـه او زړونـه بـې داغـه نـه دي. انســان د نفس، شـيطان، ګناه او حــرص غــلام دی. د شيطان په وسواسو سره مو زړونه كاږه او تـور شـوی دي. نـو زړونه به مو څنګه سميږي؟ د دې مصيبت نـه بـه مـونږ تـه څوک خلاصون راكړي ؟
خو ای عزتمندو ورونو قـادر مطلـق خـدای يـواځې مـونږ تـه د پيغمبرانو او نبيانو په وسيله كلام را نۀ كـړ ، مګـر ورسـره ئـې اميد هم را كړ. هغه مونږ سره د خلاصون وعده وكړه چې مـونږ به د وعده شوی قرباني په وسيله د خپلو ګناهونو او د شـيطان د زور او طاقت نه به خلاصون ومومو.
خلكو د هغۀ د راتلو ډير انتظار كاوه. د مسيح د راتګ نه اوسوه ۷۰۰ كاله پخوا د هغۀ د قربانۍ په باره كې يشعياه نبـی پـيش ګويی كړی وه.
دا ليكل شوی دي چې:

" ګوری زما خادم به اقبال مند شی هغه به سربالا او عزتمند او ډير اوچت شي. لکه چې ډېر تا ته په کتلو حيران شول ( د هغه مخ له هر يو انسان نه زيات او د هغه جثه د بنی آدمو نه زياته بدله شوې وه. خو بيا هم هغه شان به هغه ډير قومونه پاک کړي او بادشاهان به د هغه په مخکې چپ پاتې شي. ولې چې هغه څه چې هغوی ته هيڅکله نه ؤو ويل شوي هغه به هغوی ويني. او هغه څه چې دوی نه ؤو اوريدلي په هغوی به پوه شي .ای ربه! زمونږ په خبرو چا يقين کړی دی؟ او د رب لاس چا ته ظاهر شوی دی؟ خو هغه د هغه په مخکې د تيغ په شان اوله وچې ځمکی نه د جرړې په شان زرغون شو. نهٔ د هغهٔ څه شکل او مخ شته. نه ښايست او چې مونږ په هغهٔ نظر وکړو.نو څه نا څه ښايست يې شته چې مونږ يې خوښ کړو. هغه په سړيو کې سپک او مردود د دردونو او د غمونو آشنا دی.او لکه داسې وه چې خلکو خپل مخونه له هغهٔ نه پټ کړي ؤو. هغه سپک کړی شو. او مونږ د هغهٔ هيڅ قدر ونه کړ.

نو بیا هم هغه پخپله زمونږه کمزورتیا واخیستله او زمونږ رنځونه یې په خپل ځان اوچت کړل.خو مونږه هغه د خدای، شرمولی او مردود وګڼلو.
که څه هم هغه زمونږ د ګناهونو په سبب ژوبل کړی شو. او زمونږ د بدکاری په سبب وچکولی شو او زمونږ د سلامتیا د پاره په هغه سیاست وشو چې د هغه په وهلو مونږ شفا ومومو. مونږ ټول د ګډو په شان بې لارې شوي یو. زمونږ نه هر یو خپلې لارې ته راوګرځیده. نو خدای زمونږ ټول ګناهونه په هغه باندې بار کړل.
هغه وربړولی شو. نو هغه بیا هم وزغمل.او خوله یې خلاصه نه کړه. لکه چې وری خپل سکلودونکي ته چپ وي. دغسې هغه هم خاموشه ؤ. هغوی ظلم کاوه او فتواګانې[1] یې لګولې او هغه یې بوتلو. خو د هغې زمانې په خلکو کې ځینو دا خیال وکړ چې هغه ګوندې د ژوندیو د دنیا نه پریکړی شو. زما د خلکو د ګناهونو په سبب هغه ووهلی شو او د هغه قبر هم د شریرانو په منځ کې جوړ کړی شو. او هغه په خپل مرګ د مالدارو سره شمار کړی شو. که څه هم هغهٔ هیڅ قسم ظلم نه ؤ کړی او د هغهٔ په خوله کې هیڅ فریب نه ؤ خو خدای خوښه کړه چې دی وټکوي. هغه یې غمجن کړ. هر کله چې د هغهٔ ځان د ګناه د

قرباني د پاره ور کړی شي نو هغه به خپل نسل ويني. او د هغهٔ عمر به زيات شي او د خدای رضا به د هغهٔ په لاس پوره شي. او هغه به د خپل ځان تکليف او ازار ويني او موړ به شي. او هم د خپل عرفان د لويئ په برکت به زما صادق خادم ډير صادقان وګرځوي. ولې چې د هغوی بدي به په ځان واخلي. ځکه زه به هغهٔ له د بزرګانو سره برخه ورکړم او هغه به د لوټ او شوکمارئ مال د زوراورو سره ويشي. ولې چې هغه خپل ځان مرګ ته ورکړ او هغه د ګناهکارانو سره شمار کړی شو. نو بيا هم هغهٔ د ډيرو ګناهونه په ځان بار کړل. او د ګناهکارانو شفاعت يې وکړ".(يشعياه ۵۲ :۱۳-۱۵، ۵۳ :۱-۱۲)

## سرود:بره خدا

راجع به مسيح نبوت ها کردند
برای مرگش پيشگوئی ها کردند
اشعيا چنين گفت خونش کفاره بود
تا حيات جاويد نصيب ما سازد
برهٔ خدا کشته شد خونش بر مذبح ريخت
تا بشويد گناهانت را تا دهد اميد

محبوب یگانه خدا نجات آورده باین جهان
عیسی امید گنهکاران مسیح است نامش

# د خدای وری وگوره!

د دوزره کالـه مخکـې پـيش گـويي د پـوره کيـدلو پـه مطـابق خلاصوونکی پيدا شو. فرښتې پيغلې مريمې ته وويل چې:
"د هغه پيداکيدونکي ماشوم نوم عيسیٰ کېږده . ځکه چې هغـه به خپل امت د گناهونو نه خلاصوي." (متی ۱ : ۲۱)

که تاسو ته په يـاد وي مـونږ د کرسـيمس د اختـر پـه وخـت د مسيح پيدايښت ولمانځه. هغه پاک ماشوم لوی شو او کله چـې د هغه د اظهار کيدلو وخت پوره شو او هغه خلقو ته ښکاره شو.
د مشر کاهنانو حنا او ايفا پـه وخـت کـې د ذکريـاه پـه زوی يحيیٰ باندې په بيابان کې د خدای کلام نـازل شـو. او هغـه د اردن په وادي کې گير چاپير وگرزيده او د گناهونو د معـافی د پاره يې د توبې د بپتسمې وعظ کاوۀ. لکه چې يشـعياه نبـی د پيشگويو په صحيفو کې ليکل شوي دي چې:"په بيابـان کـې د نارې وهونکي آواز دی، د مالک لار جوړه کړئ، هغه ته سرک سم کړئ! هره دره به ډکه شی،هره غونډۍ او غر به هوار شي. کاږه به سم کړی شی او ناهموار به هوار کړی شی.
او ټول مخلوق به د خدای خلاصون ويني!" (لوقا ۳ : ۲-۶)

" د بیت المقدس، یهودیه ، اردن او د ګیر چاپیر وطن ټول
خلق هغه ته راټول شول.هغو له یې د ګناهونو په اقرار کولو
سره د اردن د سیند په اوبو بپتسمه ورکړه." (متی ۳ : ۵-۶)
" بله ورځ یحییٰ ولیدل چې عیسیٰ هغه طرف ته راځي .هغۀ
وویل چې:"وګورئ ! د خدای وری چې د دنیا ګناه په خپل
ځان وړي! دا هم هغه دی د چا په حقله چې ما ویلي ؤو چې
زما نه وروسته به یو کس راځي چې له ما نه مخکې شو ځکه
چې له ما نه اول ؤو. ما هغه نه پېژانده چې هغه څوک دی،
خو یوازې دا سبب چې زه ولې راغلم او په اوبو بپتسمه ورکوم
د دې د پاره چې هغه بني اسرائیلو ته څرګند کړی شي."
(یوحنا ۱ : ۲۹-۳۱)

# سندره : پاک ګډورے زه تا کله پرېږدمه

"تاسو چې ټول خواري کوئ او پنډ
مو درونډ دی.
زه تا کله پرېږدمه
ما ته خو راشئ، زه به در کړم آرامونه."
زه تا کله پرېږدمه.

# ټپې

عاشق ګلاب معشوقه بوټی
خدای دې عاشق د معشوقې نه بېلوينه
دا ستا به ياد يم که به هير يم
زه چې قدم په قدم ږدم تا يادومه
جانانه مه وارخطا کېږه
د وارخطا په ځای دې زه ولاړه يمه
عيسیٰ مسيح په باغ ګډيږی
ګلاب شرميږی مخ په پاڼو پټوينه

عيسیٰ د ديرشو کالو په عمر کې خپل کار د خلکو په منځ کې شروع کړ. کله چې به هغه د يوښار نه بل ښار او د يو کلي نه بل کلي ته تلو. نو ډېر خلق به د هغهٔ پسی روان ؤو. او خاص هغه ۱۲ (دولس) نفره څوک چې د هغهٔ پسې روان ؤو او د هغه ياران شول.

هغهٔ به د خدای کلام په پوره اختيار سره بيانوه او خلکو به د هغه کلام په ډير شوق سره اوريده. کله چې به هغه د خدای د بادشاهۍ په باره کې کلام کاوه نو خلک به ورته شپه او ورځ ناست ؤو. کله چې به هغهٔ وعظ کاوه. نو ډيرو به پرې ايمان راوړه.

ځينو خلکو فکر کاوه چې مسيح صرف يو نبي دی.خو ډير پوه شول چې هغه د نبي نه لوی دی. ځکه چې هغه د روح القدس په قدرت سره پيدا شوی ؤ. او هغه بې ګناه ژوند کاوه. هغه د خدای پاک د مينې نه ډک ؤ.او هغه هم په غريبانو او بې وسو خلقو باندې ډير مهربان ؤ .هغه ډيرې معجزې ښکاره کړلې. او مريضانو ته ئې شفا ورکړه. او ړانده يې بينا کړل. کنو ته يې د اوريدلو طاقت ورکړ.او مړي يې ژوندي کړل.او هم يې د ډيرو خلقو نه پيريان وشړل.هغه په هر کار قادر ؤ.
خو،آيا د هغه دنيا ته د راليږلو څه مطلب ؤ؟
عيسیٰ مسيح دا راز صرف خپل ۱۲ دولس يارانو ته ښکاره کړ. د هغۀ د راتللو حقيقي سبب دا ؤ چې په انجيل شريف کې ليکل شوي دي چې:
او هغۀ وويل چې"ابن آدم به خامخا ډيرې سختۍ زغمي چې مشران،مشر کاهنان او د شرعې عالمان به يې رد کوي، چې قتل کړی شي او بيا به په دريمه ورځ ژوندی پاڅولی شي."
(لوقا ۹ : ۲۲-۲۴)
عيسیٰ دولس مريدان يوې ډډې ته کړل او ورته يې وويل، "مونږ اوس بيت المقدس ته ځو او د ابن آدم په حق کې هر څه چې د نبيانو په وسيله ليکل شوي دي، هغه به پوره کيږی. هغه به غيرو قومونو ته حواله کړی شي، هغوی به په هغه پورې توقې وکړي او بد سلوکي به ورسره وکړي او لاړې به پرې وتوکي.

هغوی به يې په بينتونو ووهي او مړ به يې کړي او په دريمه ورځ به هغه بيا ژوندی راپاځي." (لوقا ۱۸ : ۳۱-۳۳)
"ځکه چې ابن آدم د دې د پاره نه دی راغلی چې د هغه خدمت دې وکړای شي بلکه د دې د پاره چې دی د نورو خدمت وکړي او چې خپل ژوندون د ډيرو په بدل کې په فديه ورکړي." (مرقوس ۱۰ : ۴۵)
خو، قدرمنو ورونو د وعده شوې قربانۍ وخت راغی!

# په بيت المقدس کې په کاميابۍ سره داخليدل

داليکل شوي دي چې:
د دې سره عيسیٰ ورانديې لاړ او بيت المقدس ته په ورختلو شو. نو هغه دوه مريدان د دې لاربنودنو سره واستول: "دې مخامخ کلي ته ورشئ او تاسو چې کله دې کلي ته ورننوزئ نو يو کوتی به تړلی بياموئ چې تر اوسه پورې هيڅوک وربانديې سپور شوی نه وي. هغه پرانيزئ او دلته يې راولئ." او هغوی کوتی عيسیٰ له راوست، بيا هغوی په کوتي باندې خپلې جامې واچولې او عيسیٰ وربانديې سپور شو. او په کومه لاره چې هغه تيريده خلکو په لاره کې هم ورته خپلې جامې وغوړولې.

څه وخت چې هغه د زيتونو د غره نه مخ په کوزيدو ؤ نو ټولـو ملګرو او مريدانو يې پـه هغـه ټولـو قوتنـاکو کـارونو چـې هغـوی ليدلي ؤو د خدای ثنا وويله :" مبارک دی هغه راتلـونکی بادشـاه چې د رب په نامه راځـي! سـلامتي دې وي پـه آسـمان کـې او جلال دې وي په اوچت آسمان کې." (لوقا ۱۹ : ۲۸-۳۸)

ځينو فريسيانو په دې ګڼه کې عيسیٰ ته وويل، "استاذه !خپلو مريدانو ته ووايه چې غلي شي!"

عيسیٰ جواب ور کړ، "زه تاسو ته وايم که چېری هغوی غلي پـاتې شي نو تيږې به په چيغو شروع وکړي." (لوقا ۱۹ : ۳۹-۴۰)

او مشر کاهنانو او د شرعې عالمانو دا کوشـش کـاوه چـې څـه داسې بهانه ولټوي چې عيسیٰ قتل کړي، ځکه چـې هغـوی د خلکو نه ويريدل. خو بيـا شـيطان پـه يهـوداه اسـکريوتي کـې ورننوت چې هغه د هغو دولسو مريـدانو څخـه ؤ. او يهـوداه د مشر کاهنانو او د خدای د کور د افسرانو سـره مشـورې تـه لاړ چې داسې څه بهانه پيدا کړي چې عيسیٰ څنګه ورتـه تسـليم کړي. (لوقا ۲۲ : ۲-۴)

او ورته يې وويل، "که زه په عيسیٰ مخبري وکړم نو تاسـو بـه ما ته څه راکوئ؟" نو هغوی ورتـه ديـرش د سـپينو زرو سـکې ورکړلې .د هغه وخت نه پس هغه د مخبرۍ د موقعې په تلاش کې ؤ. (متي ۲۶ : ۱۵-۱۶)

# غوره مابنام

مابنام هغه د دولسو مریدانو سره کښیناست.او د ډوډۍ په وخت هغه ورته وویل،"زه درته رښتیا وایم چې په تاسو کې به یو تن زما مخبري کوي."

هغوی په ډیره فکر مندۍ سره یو یو ورته وویل، "مالکه ! ته ما یادوې څه؟"هغه جواب ورکړ،"چاچې زما سره په دې کاسه کې لاس ښکته کړ هغه به په ما مخبري کوي .د ابن آدم په حق کې چې په صحیفو کې څه راغلي دي هغه به په هغه لاره ځي، خو افسوس په هغه سړي چې په ابن آدم مخبري کوي!که هغه سړی پیدا شوی نه وای نو د هغه په حق کې به ډیره ښه وه."

بیا یهوداه، څوک چې مخبر ؤ ورته وویل،"ربي!ته ما یادوې څه ؟"عیسیٰ جواب ورکړ چې "دا ستا وینا ده" (متي ٢٦ : ٢٠-٢٥)

هغۀ ورته د خپل ځان د قربانۍ مثال ور کړ.چې په کومه شپه د مالک عیسیٰ مخبری وشوه ډوډۍ یې واخیسته، شکر یې پرې وویست او ماته یې کړه او ویې ویل چې "دا زما بدن دی چې ستاسو د پاره دی. زما په یاد ګارۍ کې هم دغه شان کوئ." (اول خط د کورنتیانو په نوم ١١ : ٢٣-٢۴)

بيا يې کنډول راواخيست، د خداى شکر يې پرې وويست او په دې وينا سره يې هغوى ته ور کړ چې"د دې نه ټول وڅښئ ځکه چې دا زما وينه ده چې د خداى وعده قايموي او د ډيرو خلکو د گناهونو د معافۍ د پاره توئيږي (متي ٢٦ : ٢٧-٢٨)

نوهر کله چې تاسو دا ډوډۍ خورئ او دا پيياله څښئ نو د مالک د مرگ اظهار کوئ تر څو چې هغه رانه شي. (اول خط د کورنتيانو ١١ : ٢٦)

زه تاسو ته نوى حکم در کوم:يو بل سره مينه کوئ. لکه چې ما تاسو سره مينه کړې ده، دغه شان تاسو هم يو بل سره مينه کوئ. که چېرې تاسو يو بل سره مينه کوئ نو بيا به ټول په دې پوه شئ چې تاسو زما مريدان يئ. (يوحنا ١٣ : ٣٤-٣٥)

# سرود:تسليم به خدا

هستى من فداى تو	قلب من است جاى تو
ميشنوم نداى تو	راحت من رضاى تو
جسم تو شد غذاى من	خون تو شد براى من
شربت بى بهاى من	راحت من رضاى تو
مزد گناه سزاى من	ليک شدى فداى من
ناجى من خداى من	راحت من رضاى تو
درد من و دواى تو	رنج من و شفاى تو

| | |
|---|---|
| دین من و ادای تو | راحت من رضای تو |
| خاک درت بهشت من | مهر رخت سرشت من |
| عشق تو سر نوشت من | راحت من رضای تو |

# د ګیتسمني په باغ کې دعا کول

نو بیا عیسیٰ سره د مریدانو ګیتسمني نومي ځای ته راغی او هلته یې هغوی ته وویل چې"تاسو دلته کښینئ ،زه په دغه ځای کې دعا کوم." هغه پطروس او د زبدي زامن د ځان سره کړل، نو ډیر غمجن شو او په زړه یې تیاره شوله او هغوی ته یې وویل چې "زما زړه له غمه چوي، دلته ودرېږئ او زما سره بیدار اوسئ."

هغه یو څو قدمه لاړ، پړمخې پریوت او دا دعا یې وکړه چې "زما پلاره! که کیدای شي نو دا پیاله رانه لیرې کړه، خو داسې نه لکه چې یې زه غواړم بلکه داسې لکه چې ستا رضا ده." (متي ٢٦ : ٣٦-٣٩)

او چې سخت عذابیده نو لایې هم په جوش کې دعا و کړله او د هغه خوله د وینو د څاڅکو په شان په مځکه څڅیدله. (لوقا ٢٢ : ۴۴)

هر کله چې عیسیٰ د دعا نه پاڅیده او خپلو مریدانو ته راستون شو نو هغوی یې غمجن او ویده وموندل. هغه وویل،

”دا تاسو ولې ویده یئ؟ پاڅئ او دعا وکړئ چې تاسو په آزمېښت کې پرې نه وزئ.“هغه ساعت چې عیسیٰ لا دا خبرې کولې نو ګڼ خلک راغلل . او یهودا نومی سړی څوک چې د دولسو مریدانو څخه ؤ،د هغوی نه مخکې ؤ. هغه عیسیٰ له راغی چې ښکل یې کړي.خو عیسیٰ وویل، ”یهوداه! ته د ابن آدم مخبري په ښکلولو سره کوې څه؟“
بیا یې عیسیٰ ګرفتار کړ او هغه یې بوتلو او د مشر کاهن کور ته یې ننویست او پطروس وروسته شاته روان ؤ.
(لوقا ۲۲ : ۴۵-۴۸، ۵۴)

# رباعي:

چوپان یم ستا د مینی د غرۀ سر ته به ځم
همت مې نارینه دی نه چې بیرته به ځم
بې ستا نه بل دیدن په ځان حرام ګڼمه
که ستا دیدن ونه کړم نو هم چېرته به ځم
(حمزه شنواری)

# سندره: ژاړمه ستا د پاره یاره

تۀ چې ما ته وایې چې په څه کوې ژړا
ژاړمه ستا د پاره یاره

سبا به کاڼي بوټي ژاړي
چې یو آشنا د بل نه غواړي رخصتونه
د زړه مې ویني را جلا شي
چې د ښو څوکو ته راشي اوښکې شینه
خلک د غمه امان غواړي
زه د جانان په غم کې ډوب خوشحاله یمه
اوښکې مې پریږدئ چې بهیږي
زما به پاتې شي د زړۀ سوي داغونه
زړۀ چې مین شي ستر ګې ژاړي
بانه ولاړ وي اوښکې غواړي رخصتونه
تۀ چې ما ته وایې چې په څه کوې ژړا
ژاړمه ستا د پاره یاره ، ژاړمه ستا د پاره یاره.

# د جرګې په مخکې د عیسیٰ پیش کول

بیا هغوی عیسیٰ د مشر کاهن کور ته روان کړ چیرته چې مشر کاهنان، د شرعې عالمان او اولسي مشران ټول راجمع کیدل. مشر کاهنانو او ټولې جرګې دا کوشش وکړ چې د عیسیٰ خلاف داسې څه شواهد پیدا کړي چې د مرګ حکم پرې وکړي خو داسې شواهد یې پیدا نه کړای شول. ډیرو د هغه برخلاف د دروغو شاهدي ورکړه خو د

هغوی بیان د یو بل سره یو شان نه ؤ.
هغوی په شریکه فتویٰ ورکړه او د قتل حکم یې ورباندې وکړ.
چا په هغهٔ باندې لاړې توکولې او په سوکونو یې واهه او چیغې یې وهلې چې"پیشګویی وکړه!" او د هغهٔ نوکرانو هم په هغه راباندې کړې.(مرقوس ۱۴ : ۵۳، ۵۵-۵٦ ، ٦۴-٦۵)

# د یهودا خپل ځان په دار کول

کله چې یهوداه مخبر ته پته ولګیده چې عیسیٰ باندې جرم ثابت شوی دی نو هغه پښیمانه شو او هغه د سپینو زرو دیرش سکې یې مشرانو کاهنانو او قومي مشرانو ته بېرته ورکړې. هغهٔ وویل، "ما ګناه کړې ده چې یو بې ګناه سړی مې تر مرګه را رسولی دی" خو هغوی وویل چې "زمونږ ورباندې څه ؟ ته پوه شه او کار دې پوه شه."
نو هغهٔ سکې د خدای په کور کې په مځکه وغورزولې او د هغوی نه روان شو،او لاړ او ځان یې پانسي کړ. (متي ۲۷ : ۳-۵)
هر کله چې سحر شو نو مشرانو کاهنانو، د شرعې عالمانو او اولسي مشرانو په صلاح دا فیصله وکړه او عیسیٰ یې په ځولنو کې وتړلو، بیا یې هغه روان کړ، پیلاطوس ته یې حواله کړ. پیلاطوس د هغهٔ نه پوښتنه وکړه چې "ته د یهودیانو بادشاه یې څه؟"
هغه جواب ور کړ، " تا په خپله وویل."

او مشرانو کاهنانو په هغه ډیر تورونه ولګول. پیلاطوس بیا هغوی ته وویل چې "کوم سړي ته چې تاسو د یهودیانو بادشاه وایئ، د هغه سره څه وکړم؟"هغوی چیغې کړې، "هغه صلیب ته وخیژوه!" پیلاطوس پوښتنه وکړه چې ولې، هغه څه بد کار کړی دی؟" خو هغوی نورې هم چیغې تیزې کړې، "هغه صلیب ته وخیژوه!" نو پیلاطوس د خلقو د تسلئ د پاره برابا آزاد کړ او د عیسیٰ د پاره یې حکم وکړ چې په قمچینو دې ووهلی شي او په صلیب دې کړای شي. (مرقوس ۱۵ : ۱-۳، ۱۲-۱۵)

# په صلیب باندې د عیسیٰ خیژول:

د والي سپاهیانو بیا عیسیٰ قلا ته بوت او ټول عسکر یې ورباندې را ټول کړل. جامې یې ترې وویستلې او تکه سره چپن یې پرې واچوله .او د ازغو تاج یې جوړ کړ او ورته یې په سر کړ او یو لرګی یې په ښي لاس کې ورکړ، بیا د هغهٔ په مخکې په ګونډو شول او ټوقې یې ورپورې کولې چې "ای د یهودیانو بادشاه ! سلام."هغوی په هغه باندې لیاړې ورتو کړې او لرګی یې ترې واخیست اوپه سر سر یې پرې وواهه.

او چې تږوقې يې بس کړې نو چپن يې ترې وويستله او خپلې جامې يې ورواغوستلې. بيا يې هغه بهر په صليب باندې د خيژولو د پاره بوتلو. (متي۲۷ : ۲۷-۳۱)

## رباعي:

لوبان شه ای درده، او اور ته رسېږه
مشغول په عبادت دی ملک پورته رسېږه
يا ونيسه مکان د پسارى په دوکان
صورت کې د زينې شه هر کور ته رسېږه (حمزه شنوارى)

## سرود: بره خدا

برۀ خدا کشته شد خونش بر مذبح ریخت
تا بشوید گناهانت راتا دهد امید
محبوب یگانه خدا نجات آورده باین جهان
عیسیٰ امید گنهکاران مسیح است نامش
آیا شنیدی که مسیح آمده
گوید کلام خدا تا پاک سازد ما را
کفاره گناهان با مرگ خود پرداخت
تا ما حیات یابیم به او تا به ابد

د صلیب وخت د سحر نهه بجې ؤ. او د هغه خلاف لګول شوی تور چې په تخته یې لیکلی ؤ، داسې ؤ:"د یهودیانو بادشاه."

دوه جنایتکاران یې هم د هغهٔ سره صلیب ته خېژولي ؤو، یو د هغهٔ ښي لاس ته او بل د هغهٔ چپ لاس ته . دغه شان د صحیفو دا پیشګویي صحیح ثابته شوه چې: "هغه د مجرمانو سره یو ځای شو."

په لاره تیریدونکو هغهٔ ته ښکنځلې کولې، هغوی چیغې کړې، سرونه یې وخوځول چې "واه! تهٔ چې د خدای کور نړوې او په دریو ورځو کې به یې بیا جوړوې! د دې صلیب نه راکوز شه او خپل ځان بچ کړه!"

دغه شان مشرانو کاهنانو او د شرعې عالمانو هم په خپلو کې ورپورې ټوقې کولې او ویل یې چې "هغه خو نور خلق بچ کول خو خپل ځان نه شي بچ کولی. پریږدئ چې مسیح، د اسرائیلو بادشاه ، اوس دې د صلیب نه راکوز شي، که مونږ دا ووینو نو ایمان به پرې راؤړو."

تر دې چې هغه څوک چې د هغه سره په صلیب باندې خېژول شوي ؤو هغوی هم هغه ملامتولو.(مرقوس ۱۵ : ۲۵-۲۶)

د دې نه پس عیسیٰ چې پوه شو چې هر څه پوره شوي دي چې د صحیفې لیک پوره شي، نو ویې ویل چې "زه تږی یم."

هلته يو لوښی د سرکې نه ډک پروت ؤ، نو هغوی يو اسفنج په سرکه کې ډوب کړ او د زوفا په نلکه يې کېښود او د هغهٔ شونډو ته يې وروړسواوه. کله چې سرکه ورته ورکړی شوه نو هغه وويل چې "پوره شوا!"سر يې ټيټ کړ او مړ شو.(يوحنا ۱۹ : ۲۸-۳۰)

څرنګه چې دا د فسح د تيارى کولو ورځ وه نو يهوديانو پيلاطوس ته خواست وکړ چې په صليب شويو پښې دې ماتې کړای شي او مړي دې راکوز کړي چې د سبت په ورځ مړي په صليب باندې پاتې نه شي ځکه چې دا د سبت ډيره لويه ورځ وه. سپاهيان هغه اول مجرم ته ورغلل او د هغه پښې يې ماتې کړې او بيا د دوهم نفر هم چې د عيسیٰ سره په صليب باندې خيژول شوی ؤ. خو کله چې هغوی د عيسیٰ خوا ته راغلل نو هغه يې وليد چې مړ دی، نو هغوی د هغه پښې ماتې نه کړلې. خو په سپاهيانو کې يو سپاهي د هغه پوښتۍ په نيزه ووهله او سمدستي ترې د وينو او اوبو دارې رواني شوې .دا د يو داسې شاهد شهادت دی چې هر څه يې په خپلو سترګو ليدلي دي کومه چې پخه ده او هغه پوهيږي چې هغه ربښتيا وايي چې تاسو هم پرې ايمان راوړئ. ځکه چې د صحيفې دا ليک پوره شي ( د هغه يو هډوکی به هم مات نه کړای شي.) او بيا يو بل آيت وايي چې: ( هغوی به هغه سړي ته ګوري چې په نيزه يې سوری کړ.) (يوحنا ۱۹ : ۳۱-۳۷)

# د عیسیٰ ښخېدل

د هغې نه پس یوسف چې د اریمتیه څخه ؤ او هغه د عیسیٰ یو مرید ؤ خو په پټه، ځکه چې هغه د یهودیانو نه ویریده، هغۀ پیلاطوس ته خواست وکړ چې ما له د صلیب څخه د عیسیٰ د مړي د وړلو اجازت را کړه. او پیلاطوس اجازت ور کړ، نو ځکه یوسف ورغی او د عیسیٰ مړی یې یوړو. د هغه سره نیکودیموس نومی سړی هم ملګری شو څوک چې عیسیٰ ته د شپې ورغلی ؤ او تقریبا د پنځوس کیلو غودو سره یې لوبان ګډ کړي راوړل. هغوی د عیسیٰ مړی واخیست او د خوشبویو سره یې د ټوټې په کفن کې د یهودیانو د رواج په مطابق تاو کړ. په کوم ځای کې چې هغه په صلیب باندې خېژول شوی ؤ هلته یو باغ ؤ او په هغه باغ کې دننه یو نوی قبر ؤ چې څوک لا په کښې ښخ کړای شوی نه ؤ. (یوحنا ۱۹ : ۳۸-۴۱)

بیا یوسف یوه نازکه ټوټه راوړه، هغه یې د صلیب نه را کوز کړ او په کفن کې یې تاو کړ، بیا یې هغه په ګټ کې کیندل شوي ګنبدې کښې کیښود او یو لوی کاڼی یې د ګنبدې خولې ته راورغړاوه. او مریم مګدلیني او د یوسیس مور مریم هغه ځای ولید او هغه ځای یې په نښه کړ چې هغه یې په کې ایښی ؤ. (موقوس ۱۵ : ۴۶-۴۷)

# رباعي

ښایست چې د چا وینم نو هم ستا وینمه
کاتۀ که چا ته نه کړم، نو هم تا وینمه
تیاره ده که رڼا ده که ګناه او ثواب
هم ته او ستا صفت صبا بیګاه وینمه
رباعي (حمزه شینواری)

# ټپې

جانانه لاړې آسماني شوې
آسمان چې ځمکې ته راځي قیامت به وینه
د آسمان ستوری شوې جانانه
نه درختلی شم نه مې زړه صبر کوینه
دیدن د بادو پیمانه ده
نه به پرې موړ شې نه به ترې وترې بارونه
کچکول په لاس په ملکو ګرځم
سود مې ونه کړ اخر خپل وطن ته ځمه
روح مې په تن کې ځکه پایي
زه ورته وایم آشنا نن سبا راځینه
د سهار باده خبر مې یوسه
په پاک عیسیٰ باندې مې وایه سلامونه

# خالي قبر:

د سبت ورځ  تيره شوه او د يکشنبې د ورځې سحر کيدونکی ؤ چې مريم مګدليني او هغه بله مريم د قبر ليدلو ته راغلې. ناڅاپه يوه سخته زلزله راغله ، د آسمان نه د رب يوه فرښته راکوزه شوه، کاڼي له راغله او هغه يې ورغړاوه او په خپله ورباندې کښيناستله. د هغې مخ د آسمان د بريښنا په شان ځليده او جامې يې لکه د واورو په شان سپينې وې. څوکيداران يې په ليدلو د ويرې نه ورپيدل او لکه د مړو په شان پريوتل.

فرښتې بيا ښځو ته وويل چې "تاسو د هيڅ نه مه ويرېږئ، ماته پته ده چې تاسو عيسیٰ ګورئ څوک چې په صليب شوی ؤ. هغه دلته نشته، هغه بيا پورته کړی شوی دی لکه څنګه چې هغهٔ ويلي ؤو. راشئ ، هغه ځای وګورئ چېرته چې هغه پروت ؤ. نو بيا زر لاړې شئ او د هغه مريدان خبر کړئ چې هغه له مړو نه پورته کړای شوی دی او ستاسو نه مخکې ګليل ته روان دی، تاسو به يې هلته ووينئ. ما تاسو ته داسې ويلي دي."

هغوی د هديرې نه په هيبت او خوشحالۍ لاړې او په منډه لاړلې چې مريدان خبر کړي. ناڅاپې عيسیٰ ورباندې په لاره کښې ورپيښ شو او په هغوی يې سلام واچواوه .هغوی ورغلې او د هغه پښې يې ونيولې او سجده يې ورته وکړه. بيا عيسیٰ

هغوی ته وویل چې "وېرېږئ مه، لاړې شئ او زما وروڼو ته دا پیغام ورکړئ چې هغوی دې ګلیل ته لاړ شي، ما به هلته ویني." (متي ۲۸ : ۱-۱۰)

# د ژوندي مالك ظاهریدل او د هغهٔ حکمونه

کله چې مریدان په دې خبرو لګیا ؤو نو عیسیٰ په خپله د هغوی په منځ کې ودریده او ورته یې وویل، "السلام علیکم." هغوی ویرې او هیبت واخیستل او دا ګمان یې کاوه چې ګوندې پیری دی.خو هغه ورته وویل چې "تاسو ولی داسې وار خطا یئ او ستاسو په زړونو کې دا قسم قسم وسوسې ولې پیدا کیږي؟ زما لاسونو او پښو ته وګورئ چې دا زه یم. ماله لاس راوړئ او وګورئ،د پیري غوښه او هډوکی نه وي لکه چې تاسو یې وینئ زه یې لرم.
د دې وینا نه پس یې خپل لاسونه او پښې هغوی ته وښودل. (لوقا ۲۴ : ۳۶-۴۰)
عیسیٰ هغوی ته وویل چې "دا زما هغه کلام دی چې کله چې زه ستاسو سره وم نو درته به مې ویل چې د موسیٰ په شریعت کې د نبیانو په صحیفو کې او په زبور کې هر څه چې زما په هکله لیکل شوي دي، هغه به ضرور پوره کیږي."

بیا هغه د هغوی ذهن روښانه کړ چې په صحیفو پوه شي. هغه وویل چې " دا لیکل شوي دي چې مسیح به زحمت وزغمي او په دریمه ورځ به له مړو نه بیا ژوندی پاڅي. او د هغه په نامه به ټولو قومونو ته د ګناهونو نه د توبې او د معافی وعظ کولی شي. تاسو د بیت المقُدس نه شروع وکړئ. هم تاسو د دې هر څه شاهدان یئ،" (لوقا ۲۴ : ۴۴-۴۸)

بیا عیسیٰ ورغی او خبری یې ورسره وکړې او ورته یې وویل چې "د آسمان او د مځکی ټول واک ما ته راکړی شوی دی. (متي۲۸ : ۱۸)

بیا هغهٔ هغوی ته وویل،" د تمامې دنیا هرې سیمی ته لاړ شئ او زما د زیري وعظ ټول مخلوق ته وکړئ. هر څوک چې په دې ایمان راوړي او بپتسمه واخلي نو هغه به خلاصون بیا مومي، او هر څوک چې پرې ایمان را نهٔ وړي هغه به مجرم شي. (مرقوس ۱٦ : ۱۵-۱٦)

د هغوی سره د خبرو کولو نه پس مالک عیسیٰ آسمان ته پورته کړی شو او هغه د خدای ښي طرف ته کښیناست. (مرقوس ۱٦ : ۱۹)

# شعر:زما روح

په طلب د مهرویانو سر ګردان دی زما روح

لکه باد د ګل په بوی پسې پریشان دی زما روح
چې مې ستا د جمال عکس دی لیدلی په خپل ځان کې
هم په دې د آئینی په څیر حیران دی زما روح
ستا له مخ د آئینی له برکته زما جانه!
همیشه لکه طوطي هسې ګویان دی زما روح
منتظر یم د وصال و ګلستان ته تل تر تله
سر تر پایه د شبنم په څیر چشمان دی زما روح
چې حاصله مې له حسنه روښنايي شوه په طلب کې
شپه او ورځ لکه آفتاب په لار روان دی زما روح
ستا په زلفو په رخسار پسې رحمن شو بې وطنه
مسافر د هندوستان د خراسان دی زما روح
شعرونه:عبدالرحمان بابا
ترجمه:ینز اینولیس

# ګرانو ورونو!

د عیسیٰ مسیح مرګ د شرم مرګ نۀ ؤ. ځکه چې هغه زمونږ د پاره د خدای وعده شوې قرباني وه او هغه زمونږ د ګناهونو سزا ورکړه. خو، بیا هم هغه را ژوندی شو. ځکه چې مرګ نه شو کولای چې هغه قبر کې وساتي. د صلیب مرګ خو لکه د شکست په شان ښکاره کیده خو په حقیقت کې هغه د خدای د مینې او قدرت ظاهریدل د ټولو انسانانو د پاره د هغه د

ژوندي کیدلو نه دا ښکاره شوه چې خدای د هغه قرباني قبوله ثابته کړه. او دا قربانی یې کافي او کامله وګڼله.
ګرانو ملګرو! دا د ایسټر د اختر معنی ده چې د شیطان او ګناه په وسیله "جدایي راغلـه او لارې دوه شـوې." خـو د ایسـټر د اختر په وخت مونږ خوشحالیږو، ځکـه چـې خـدای دنیـا تـه وعده شـوې قربـاني راولیږلـه.او مینـه لرونکـی خلاصـوونکی او څوک چې به وایي چی:
"مرګ مې قبول دی جدایي نه قبلومه."
نو اوس څوک چې د هغۀ په قربانۍ ایمان ولـري د خـدای نـه به جدا نه شي. ځکـه چـې د عیسـیٰ مسـیح پـه وسـیله بـه د جدایئ دوه لارې یو شي. او ټول کبیره او صغیره ګنـاه بـه یـې معاف شي.
خو ملګرو هر هغه څوک چې پـه صـحیح طریقـې سـره غـواړي چې په مسیح ایمان راوړي باید ووایي چې:

## دعا

قربان دې شم عیسیٰ ! زه اوس خپل ټول ژوند تا ته وقف کوم.
قربان دې شم عیسیٰ ! زه تا د خپل منزل چراغ ګرځوم.
قربان دې شم عیسیٰ ! زه ستا قرباني د سر په سترګو قبلوم.
قربان دې شم عیسیٰ ! ځکه چې ته ژوندی خلاصوونکی یې

ای خدایه ! په خپل زور او قدرت سره دې شیطان زما نه وشړه. ما معاف کړه ما ته د ګناه د رنځ نه شفا را کړه.
او صحیح او حقیقي لار راته وښایه او په خپل آسماني جلال کې مې قبول کړه. د عیسیٰ مسیح په نوم او اختیار دعا کوم آمین.

# د پاکې مینې نه دې قربان شم.
# قربان دې شم

قربان دې شم!
وفاداره یاره زما
د مینې نه قربان دې شم
د پاکې وینې قربانی نه، دې قربان شم
د سپیڅلې الهي مینې نه هی
قربان دې شم